مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۳۱مه | دویم کال| ۳٥٤مه گڼه

# ډاکټر عبدالله عبدالله: له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره دې د سولې رهبري شورا جوړه شي


۳

## پوهنتون
۴ مخ

### باختر پوهنتون

پر کتابتونو سربېره، باختر پوهنتون د خپلو محصلینو د هر اړخیزو وړتیاوو د لوړولو لپاره، ډېر نور پروګرامونه هم برابر کړي دي.




### په پکتیکا کې ٦٥٠ جریبه د مېوو نوي بڼونه جوړېږي



د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې «NHLP» په پکتیکا کې د ٦٥٠ جریبه مېوه لرونکو بڼونو د جوړولو کمپاین پیل کړی دی.
دغه کمپاین چې د کرنې وزارت د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامې له خوا پیل شوی دی، په ترڅ کې به یې د دغه ولایت په مرکز شرنه، جانیخیل او خیرکوټ ولسوالیو کې ٦٥٠ جریبه نوي مېوه لرونکي بڼونه جوړ شي.
د بڼوالۍ او مالدارۍ ملي برنامه «NHLP» پر دې سربېره، چې کروندګرو ته به تصدیق شوي نیالګي ورکړي، له هغوی سره د باغونو په نقشه اچولو، د اوبولګولو د سیستم په جوړولو او د بڼوالۍ د مدیریت اړوند ځینو نورو برخو کې هم تخنیکي او فني مرستې وکړي.
د یاد ولایت کروندګر د کرنې وزارت له دغه اقدام څخه هرکلی کوي او وایي چې له دې سره به یې شته ستونزې راکمې او د مېوو صادرات به یې ډېر شي.

### د سولې په اړه د واحد افغان دریځ اړتیا
۲ مخ

### ۵ سال پیوست مجدد کریمیا به روسیه؛ پیروزی دموکراسی و نمونه یی از سیاست «ستندردهای دوگانهٔ» غرب
۲ مخ

## سرچینه: امریکا د حمدالله محب په حضور غونډو کې ګډون نه کوي

د افغان حکومت او متحده ایالتونو ترمنځ د پروتوکول په برخه کې، د ولسمشر غني د ملي امنیت مشاور حمدالله محب د ګډون مسئله لا هم نه ده حل شوې.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت خپل پوځي مامورین او ډیپلوماټان وروسته له هغې له حمدالله محب سره له لیدنو- کتنو منعه کړي، چې نوموړي په واشنګټن کې د زلمي خلیلزاد خلاف پاروونکې څرګندونې وکړې.
یوې سرچینې د نوم نه ښودو په شرط ویلي، چې په افغانستان کې د امریکا سفیر جان باس له ولسمشر غني غوښتي، چې له دوی سره په ناستو کې دې د ده د ملي امنیت مشاور ګډون نه کوي، خو ولسمشر د حمدالله محب د لرې کولو مسئله د زلمي خلیلزاد پر ځای د بل کس په ګمارلو پورې مشروطه کړې ده.
ولسمشرۍ ماڼۍ د دې مسئلې په اړه ناخبري ښودلې او ملي امنیت شورا او د امریکا سفارت په دې تړاو څه نه دي ویلي.
دا په داسې حال کې ده چې د ملي امنیت شورا سلاکار په واشنګټن کې د خپل وروستي سفر پر مهال، له امریکایي خبریالانو سره په یوه ناسته کې پر خلیلزاد تور پورې کړ، چې غواړي د خپلو شخصي ګټو لپاره د سولې په روان بهیر کې افغان حکومت څنډې ته کړي.
خلیلزاد د افغان سولې په تړاو خپل شپږم سفر پیل کړی او کابل ته تر راتګ وړاندې یې د ناټو او اروپایي ټولنې له مشرانو سره پر افغان سوله او له طالبانو سره پر روانو مذاکراتو خبرې کړې دي.

### له هزاره ورونو منه چې زموږ لپاره یې په سوریه کې جګړه وکړه



۲ مخ

## رئیس جمهور غنی با برخی شخصیت‌های سیاسی و جهادی درباره گفت‌وگوهای صلح دیدار کرده است



رئیس جمهور اشرف غنی دیروز در یک نشست مشورتی با شماری از رهبران سیاسی کشور، به شمول عبدالله عبدالله رئیس اجرائیه کشور و حامد کرزی رئیس جمهور پیشین کشور، روی گفت‌وگوهای صلح گفت‌وگو کردند.
ریاست جمهوری در یک خبرنامه می‌گوید که در این دیدار عبدرب الرسول سیاف رهبر پیشین جهادی، سرور دانش معاون دوم ریاست جمهوری و محمدکریم خلیلی رئیس شورای عالی صلح نیز حضور داشتند.
ساعاتی پس از این دیدار، آقای غنی در تویترش نوشت که با شماری از رهبران سیاسی کشور دیدار کرده است.
آقای غنی می‌گوید که برای رسیدن به یک موقف واحد روی روند صلح، مشوره هایش را با سیاسیون دیگر و نماینده‌گان اقشار مختلف جامعه ادامه خواهد داد.
در خبرنامه ریاست جمهوری آمده است که در این دیدار، شخصیت‌های نامبرده در رابطه به این که از جریان‌ها، اقشار و واقعیت‌های نوین افغانستان در روند صلح نماینده‌گی بهتر صورت گیرد، مشوره‌های شان را ارائه کردند.
خبرنامه می‌افزاید که مشوره‌های متذکره به‌خاطر این است که تلاش‌های متعدد به منظور دستیابی به صلح، به یک موقف واحد در روند گفت‌وگوها مبدل شوند.
این دیدار در حالی صورت گرفته است که زلمی خلیلزاد نماینده ویژهٔ امریکا برای صلح افغانستان، سفر ششمین خود را آغاز کرده است.

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019




Easy English Learning With Shigal
Admission Open
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

دریځ

## د سولې په اړه د واحد افغان دریځ اړتیا

ولسمشر غني پرون د پخواني ولسمشر په ګډون له ځینو سیاسي مشرانو سره لیدلي دي او د سولې په روانو هڅو یې ورسره خبرې کړې دي. په پرونۍ غونډه کې د سولې عالي شورا رییس استاد کریم خلیلي، دویم مرستیال سرور دانش، پخوانی جهادي مشر استاد سیاف او اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله حاضر وو. ولسمشرۍ ماڼۍ وایي چې د دغو غونډو لړۍ به ادامه لري او له ډېرو نورو سیاسي مشرانو سره به هم د سولې په اړه سلا مشورې کېږي.

د سولې د روانو هڅو په اړه تر اوسه پورې هم د حکومت او سیاستوالو نظرونه متفاوت او متضاد دي. له بده مرغه دا دواړه نظرونه بیا له ولسي نظر سره هم تفاوت او تضاد لري. همدغه تفاوت او تضاد بیا د دې سبب شوی چې له یوه اړخه د سولې په هڅو کې خنډونه پیدا کړي او له بله اړخه افغاني لوری کمزوری شي. حکومت غواړي چې هر څه د دوی په انحصار کې وي او آن غواړي سوله د خپل سیاسي واک د دوام قرباني کړي. سیاستوال بیا په دې چاره کې پر حکومت کرښه را باسي او هڅه کوي چې له سیاسي اړخه حکومت ته ضربه ورکړي. ولس بیا غواړي چې نه سیاسیون د سولې له هڅو سیاسي استفاده وکړي او نه هم حکومت د سولې پر ضد سنګر ونیسي.

د دې اړتیا ده چې د سیاستوالو او حکومت ترمنځ اختلافات واضح شي. بحث پرې وشي او پر داسې ټکي توافق وشي چې له یوه اړخه له سولې سره مرسته وکړي او له بله اړخه د افغانانو غږ یو شي او قوت پیدا کړي. که د سولې په روانه پروسه کې ستونزې وي، حکومت باید دا هر څه خلکو ته ووایي او که ستونزې نه وي، نو بیا پکار ده چې د خپل واک د دوام لپاره سوله قرباني نه کړي. حکومت چې له څه وېره لري، باید له خلکو او سیاستوالو سره یې شریک کړي. دا وېره باید له سیاستوال او ولس سره شریکه کړي او دا باید زموږ ټولو ګډه وېره شي. سیاستوال چې څه ته هیله لري دا هیله باید د حکومت او ولس هیله هم شي. اوس سیاستوال یو مخ هیلې ورکوي، خو اندېښنو او شکونو ته ځواب نه وایي. حکومت هم یو مخ وېرول کوي، د خلکو په هیلو خاورې اړوي او د سولې پر ضد یې سنګر نیولی دی.

اوس چې سیاستول او حکومتي مشران سره را ټولېږي او خبرې کوي، دا ښه ګام دی. د سیاستوالو او حکومت ترمنځ باید تفاهم وي او ګډ دریځ خپل کړي. تر اوسه پورې خو له بده مرغه حکومت په سیاستوالو پسې تخریب کوي او سیاستوال بیا په حکومت پسې تخریب کوي. دا چاره د دواړو د کمزورۍ او د ولس د زیان سبب شوې ده. پکار ده چې سیاستوال او حکومت د ټکر پر ځای د همکارۍ روحیه پیدا کړي او د سولې په تړاو داسې واحد دریځ خپل کړي چې هم د دوی په ګټه وي او هم ولس ته د سولې د را ګرځېدو سبب شي.

# ۵ سال پیوست مجدد کریمیا به روسیه؛

## پیروزی دموکراسی و نمونه یی از سیاست «ستندردهای دوگانۀ» غرب

شبه جزیرۀ کریمیا در نتیجۀ یک همه پرسی از باشندگان این شبه جزیره در ۱۸ ماه مارچ سال ۲۰۱۴ میلادی به روسیه ملحق گردید. این رویداد که پس از آن خرابی مناسبات کشورهای غربی با روسیه را به دنبال داشت، از اهمیت بزرگی برای تمام جهان برخوردار میباشد، چون که تشریک مساعی روسیه و غرب بر تمام پروسه‌های جهانی تأثیر گذار میباشد. بنابر این، پی بردن به تاریخ و پیامدهای این اختلافات نیز برای ما مفید خواهد بود.

این شبه جزیره از اهمیت فراوان برای روس‌ها برخوردار میباشد. همانا اینکه ولادیمیر پوتین یکی از شهزاده‌های روسیه در همین جا در سال ۹۸۷ میلادی، زمانیکه این منطقه یک بخشی از امپراطوری بیزانس (روم شرقی) بود، به عیسویت گرایید. در قرن ۱۳ میلادی روسیه قدیم یکجا با کریمیا از سوی مغول‌ها تسخیر و شامل دولت اردوی طلایی گردید. خان‌های کریمیا پس از فروپاشی امپراطوری مغول‌ها که از امپراطوری عثمانی تابعیت کرده و در جریان چندین سده سرزمین‌های روسیه را مورد تاخت و تاز قرار دادند. اما قدرت امپراطوری روسیه نضج گرفت و سرحدات آن وسعت پیدا کردند، از جمله همچنان در سمت جنوب. بالاخره اکاتیرینای دوم امپراطور روسیه در سال ۱۷۸۳ میلادی شبه جزیره را از دست ترکیه پس گرفت. از همان زمان، کریمیا به پایگاه اصلی قوای بحری روسیه در بحیرۀ سیاه تبدیل گردید و در پرتو دلاوری‌های قهرمانانۀ ساکنان آن در سال‌های جنگ‌های روسیه با ترکیه، مبارزه در برابر اشغالگران انگلیسی و فرانسوی و سپس بر ضد آلمان فاشیستی در سال‌های جنگ جهانی دوم این سرزمین با افتخارات مردم روسیه پیوند ناگسستنی دارد. در سال ۱۹۵۴ میلادی در زمان اتحاد شوروی، نیکیتا خروشیف منشی عمومی کمیتۀ مرکزی حزب کمونست اتحاد شوروی که روابط تنگاتنگ با اوکراین داشت، شبه جزیرۀ کریمیا را به این جمهوری سوسیالیستی شوروی واگذار کرده بود. ولی این واگذاری از اهمیت خاص برخوردار نبود، زیرا تمام جمهوری‌های اتحاد شوروی اجزای یک دولت واحد را تشکیل میدادند. همه چیز پس از فروپاشی اتحاد شوری تغییر کرد، زمانیکه کریمیا از بدنۀ روسیه جدا شد، ولی باشندگان آن به پی بردن یکپارچگی با وطن تاریخی خود ادامه دادند.

پس از کودتای دولتی در اوکراین در ماه فبروری سال ۲۰۱۴ میلادی، باشندگان مناطقی که اکثر ساکنان آنها را روسی زبان‌ها تشکیل میدهند یعنی کریمیا و دونباس (جنوب شرق اوکراین) هدف تعقیب از طرف سران جریان‌های سیاسی افراطی ملی گرا و اغلباً حتی فاشیستی قرار گرفته اند که با کمک و حمایت کشور های غربی مقدم بر همه ایالات متحدۀ امریکا بر اریکۀ قدرت در کیف تکیه زده اند. در چنین وضعیت پیچیده، باشندگان کریمیا تصمیم گرفتند تا با استفاده از دموکراسی ترین طریقه – برگزاری همه پرسی، سرنوشت خود را به دست خود تعیین نمایند. ۹۵٪ مردم کریمیا به طرفداری از پیوستن آن به روسیه رأی دادند و ۱۸ مارچ به یکی از بزرگترین و محبوبترین جشن‌ها برای باشندگان این منطقه تبدیل گردید.

اما، این انتخاب دموکراتیک مورد پذیرش با اصطلاح «غرب مشترک» قرار نگرفت. حمایت از تصرف قدرت در کیف برخلاف قانون اساسی و اجتناب از برسمیت شناختن تمثیل ارادۀ مردم در کریمیا به شکل دموکراتیک آن یکی از نمونه‌های بارز در سیاست «ستندردهای دوگانه» را تشکیل میدهد. غربی‌ها که در صدد تبدیلی شبه جزیرۀ کریمیا (که از لحاظ ستراتیژیک مهم میباشد) به «کشتی طیاره بردار» ناتو در بحیرۀ سیاه بودند و با وضع نمودن محدودیت‌ها بر باشندگان شبه جزیره، به انتقام گیری از آنها پرداختند که این موضوع در ذات خود تبعیض در حقوق بشر پنداشته می‌شود.

ولی، با وجود همه مشکلات، امروز کریمیا فعالانه در حال رشد بوده، اقتصاد و زیربناهای خود را تکمیل می‌نماید. بسیاری از شرکت‌های خارجی از تعزیرات غیرقانونی و نامشروع غرب حمایت نکرده و در صدد توسعۀ مناسبات با کریمیا میباشند، جایکه هر سال با اشتراک صدها تجار خارجی، گردهمایی بین المللی اقتصادی برگزار می‌شوند. احداث پل کریمیا که در سال گذشته به پایان رسید و این شبه جزیره را با مناطق جنوبی روسیه وصل می‌نماید، به یک رویداد بی سابقه تبدیل گردیده است.

زمانیکه کریمیا جزوی از قلمرو اوکراین بود، نهادهای بین المللی مدافع حقوق بشر بار ها موارد نقض حقوق اقلیت‌های ملی را ثبت کرده اند. پس از الحاق کریمیا به روسیه، توجه خاص در این شبه جزیره به عرصه‌های اجتماعی و تأمین حقوق بشر مبذول می‌گردد. مطابق به سر شماری انجام شده در سال ۲۰۱۴ میلادی، ۲،۳ میلیون نفر نفوس این شبه جزیره را تشکیل میدهد. در مجموع نماینده های ۱۰۰ ملیت در کریمیا زندگی می‌نمایند، از جمله ٦ ملیت پرجمعیت (بیشتر از ده هزار نفر). در قانون اساسی این جمهوری برای اتباع آن حق داده شده است تا به زبان‌های مادری خود تکلم نمایند و مهمتر از همه اینکه این حق در عمل پیاده شده است. روسی، اوکراینی و کریم-تاتاری زبان‌های رسمی این منطقه را تشکیل می‌دهند. تلویزیون‌ها و رسانه‌های چاپی محلی فعالیت‌های خود را باین زبان‌ها به پیش می‌برند. آموزش زبان‌های مادری (کریم-تاتاری، اوکراینی، ارمنی، بلغاری، یونانی و آلمانی) در مکتب‌های شبه جزیره آموزش داده می‌شوند. نماینده‌های اقلیت‌های داخلی تقریباً نیمی از پست های نهادهای دولتی قدرت را در دست دارند. هیئت‌های حلقات سیاسی و اجتماعی از کشورهای خارجی که از کریمیا بازدید می‌نمایند، عدم موجودیت هر نوع اشکال تبعیض، منجمله نژادی و مذهبی در این شبه جزیره را مورد توجه قرار داده اند. طی سال های ۲۰۱۷-۲۰۱۸ میلادی، اعضای پارلمان‌های کشورهای برازیل، بریتانیای کبیر، آلمان، صربیا، سلواکی، مونته نگرو، چک، قرغیزستان و بعضی کشورهای دیگر، نماینده های سازمان های غیردولتی، مثلاً «مرکز ابتکارات مدنی» امریکا از شبه جزیره بازدید نموده اند.

## خلیلزاد: ناټو او امریکا په ګډه بین الافغاني خبرو ته لاره هواروي



د افغان سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد په بلجیم کې د ناټو او اروپایي ټولنې له استازو سره د افغان سولې په اړه خبرې کړې دي او هغوی ته یې د خپلو وروستیو هلو ځلو په اړه معلومات ورکړي دي.

خلیلزاد د افغان سولې په تړاو د خپل شپږم سفر په ترځ کې تر لندن وروسته بلجیم ته تللی او هلته یې لومړی د ناټو له سرمنشي سټولټنبرګ او ورسره پلاوي سره لیدلي دي.

نوموړي په ټوېټ کې لیکلي چې له ناټو سره یې د خپلو هلو ځلو، له طالبانو سره د لیدنو او نورو هڅو په اړه معلومات شریک کړي دي.

هغه زیاته کړې چې ناټو او امریکایي ځواکونه اوږه په اوږه په افغانستان کې خدمت کوي، موخې او هدفونه یې ګډ دي او دا قرباني یې د دې لپاره ورکړې، چې په افغانستان کې سوله رامنځ ته شي.

خلیلزاد دغه راز ویلي چې ناټو او امریکا به په ګډه خپل هدفونه ترلاسه کړي او بین الافغاني مذاکراتو ته به زمینه برابروي.

نوموړي په یوه بل ټوېټ کې لیکلي، چې په بلجیم کې یې د اروپایي اتحادیې له استازو سره هم ګټورې خبرې کړې دي او هغوی یې د خپلو وروستیو هڅو په اړه په جریان کې کړي دي.

نوموړي زیاته کړې چې له اروپایي اتحادیې سره یې په افغانستان کې د نظامي، سیاسي او ټولنیزو لاسته راوړنو او په ځانګړې توګه د ښځو او ماشومانو د لاسته راوړنو په اړه خبرې کړې دي.

خلیلزاد د اروپایي اتحادیې د بهرنیو اړیکو د کمېسیون له مشرې مننه کړې، چې د افغانستان د ټاکنو او سولې پروسې په اړه ښه نظر لري .

هغه زیاته کړې: «خبرو ته داخل شئ، که چېرې ټاکنې نه وي، د یو هېواد په توګه متحد پاتې شئ او ټاکنې وکړئ».

بلخوا اروپایي ټولنې په افغانستان کې د روانې جګړې پر سیاسي حل ټینګار کړی، خو د دې تر څنګ یې ټاکنې هم مهمې بللې دي.

سرچینې ویلي چې له زلمي خلیلزاد سره په خبرو کې د اروپایي ټولنې استازو او خلیلزاد په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسولو لپاره د روانو مذاکراتو دوام مهم بللی او له دې پروسې یې ملاتړ کړی دی.

د اروپایي ټولنې د بهرنیو اړیکو مسوولې فېدرېکا موګیرني له خلیلزاد سره په یاده لیدنه کې ویلي، چې اروپایي ټولنه د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې له خبرو ملاتړ کوي.

د نوموړې په خبره، ټاکنې او د سولې مذاکرات دواړه د افغانستان لپاره مهم دي او اروپایي ټولنه په دواړو برخو کې د پاملرنې غوښتونکې ده.

## خامنه يي: له هزاره ورونو مننه چې زموږ لپاره يې په سوریه کې جګړه وکړه



د ایران د تسنیم خبري اژانس د راپور له مخې، د دغه هېواد مذهبي مشر ایت‌الله علي خامنه يي له هغو هزاره توکمو مننه کړې، چې د ایران لپاره یې په سوریه کې جګړه کړې ده. نوموړي د فاطمیون ډلې د وژل شوو غړو له کورنیو سره په لیدنه کې ویلي، چې د دغه ډلې وژل شوي افغان هزاره غړي تر نورو زیات امتیاز لري.

نوموړي په مشهد کې د فاطمیون لوا په لیکو کې د جنګېدونکو افغان هزاره وو، د کورنیو له غړو سره په لیدنه کې دغه څرګندونې کړې دي.

خامنه يي په فاطمیون ډله کې د جنګېدونکو افغان هزاره وو رول ستایلی دی او ویلي یې دي: «شهیدان شوي افغان ورونه تر نورو زیات امتیازات لري، ځکه هغوی په ډېرې بېوزلۍ کې شهیدان شوي دي».

نوموړي ویلي چې امریکا په لبنان، سوریې او عراق کې ماتې خوړلې او د دې ماتې لامل یې هغه کسان بللي چې په دغه جګړه کې وژل شوي دي.

خامنه يي زیاته کړې: «هغوی (د فاطمیون لوا وژل شوي کسان) غالباً سرتېري او انګېزه لرونکي ځوانان وو. ما له خپلو افغان ورونو سره تر انقلاب مخکې له نږدې څخه اړیکې لرلې، د هغوی له روحیې او انګېزې سره بلدتیا لرم، ډېر ګرم، ثابت قدمه او انګېزه لرونکي دي.»

د نوموړي په خبره، په فاطمیون ډله کې جنګېدونکو افغانانو له نورو څخه زیات مقاومت کړی دی.

نوموړي دغه څرګندونې په داسې حال کې کړې دي، چې په سوریه کې د شیعه مذهبو له مقدسو ځایونو څخه د دفاع لپاره د فاطمیون لښکر په لیکو کې د افغانانو جنګېدل یوه جنجالي مسئله ده، چې په وار وار یې په اړه په افغانستان کې اندېښنې هم ښودل شوې دي.

ویل کېږي چې د ایران سپاه پاسداران ځواکونه له فاطمیون لښکر څخه ملاتړ کوي او د دغو نیابتي ځواکونو عمده برخه افغان او پاکستاني شیعه ځوانان دي، چې د فاطمیون او «زینبیونو» په نوم د سوریې د ولسمشر بشارالاسد له ځواکونو سره اوږه په اوږه جنګېږي.

د راپورونو پر بنسټ، شاوخوا ۵۰ زرو افغانانو په سوریه کې له ۲۰۱۳ تر ۲۰۱۷ ز کال پورې جګړه کړې ده، چې ډېری برخه یې وژل شوي او یا ټپیان شوي دي. تر دې دوه کاله مخکې د شرق په نوم یوې ایرانۍ ورځپاڼې ویلي وو، چې د سوریې په جګړه کې له دوو زرو زیات افغان جنګیالي وژل شوي او اته زره نور ټپیان شوي دي.

# ډاکټر عبدالله عبدالله: له طالبانو سره د مخامخ خبرو لپاره دې د سولې رهبري شورا جوړه شي



له طالبانو سره د سولې لپاره د رهبري شورا د جوړولو وړانديز شوی دی. افغان حکومت د سولې د هڅو په درشل کې په دې برخه کې په نويو اقداماتو لاس پورې کړی دی. ولسمشر غني پرون له ځينو جهادي او سياسي مشرانو سره په همدې اړه سلا مشوره کړې ده. سرچينې وايي چې په دې غونډه کې وړانديز شوی، څو له طالبانو سره د خبرو لپاره د سولې رهبري شورا جوړه شي. دغه وړانديز اجرايه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله کړی دی، خو تر دې دمه نهايي شوی نه دی.

په ارگ کې باوري سرچينې ويلي، عبدالله عبدالله ټينگار کړی، چې له طالبانو سره د خبرو لپاره د متعددو ډلو او گروپونو رامنځ ته کول دغه بهير زيانمنوي، نو له همدې امله بايد د سولې رهبري شورا جوړه شي او دوی به له طالبانو سره خبرې کوي. سرچينې زياته کړې: ((د حکومت اجرايه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله په دې ناسته کې وړانديز کړی، چې د سولې رهبري شورا رامنځته شي او دغه شورا له طالبانو سره د سولې رواني خبرې پرمخ بوځي. دغه وړانديز نهايي شوی نه دی او ښايي په نورو مجلسونو کې پرې خبرې وشي)).

ولسمشر غني پرون له پخواني ولسمشر حامد کرزي او نورو جهادي مشرانو سره پر سوله خبرې کړې دي او له دوی سره يې سلا مشورې کړې دي. په دې غونډه کې د سولې عالي شورا رييس استاد کريم خليلي، دويم مرستيال سرور دانش، پخوانی جهادي مشر استاد سياف او اجرايه رييس ډاکټر عبدالله عبدالله حاضر وو.

د ولسمشر يوه وياند هارون چخانسوري له رسنيو سره په خبرو کې ويلي، چې په دغه غونډه کې د سولې په برخه کې د روانو هڅو او همدا راز په دې برخه کې د پاشلو فعاليتونو پر يو ځای کولو بحثونه او خبرې شوې دي. چخانسوري ويلي چې د دغو غونډو لړۍ به ادامه لري او له ډېرو نورو سياسي مشرانو سره به هم د سولې په اړه سلا مشورې کېږي.

افغان حکومت داسې مهال دغه خبرې کوي چې امريکايي حکومت ترې د يوې ملي، ټولمنلي او بانفوذه هيئت جوړول غوښتي. د افغان سولې لپاره د امريکا د بهرنيو چارو وزارت ځانگړي استازي زلمي خليلزاد ويلي وو، چې له افغان حکومته يې غوښتي چې له طالبانو سره د مذاکراتو لپاره يو ملي او ټولمنلی پلاوی جوړ کړي او په خبره يې دغه پروسه به ژر بشپړه شي.

ولسمشر د تېر کال په ډسمبر کې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د سولې عالي مشورتي بورډ اعلان کړ، خو د دغه بورډ ډېری غړو د بورډ په ناستو کې برخه وانه خيسته. په دغه بورډ کې د حکومت پر مشرتابه او ځينو جگپوړو چارواکو سربېره، د ملي شورا د دواړو جرگو مشرانو، د ديني عالمانو د شورا رييس، د سولې عالي شورا د دارالانشا رييس او ځينو ملي، جهادي او سياسي مشرانو ته غړيتوب ورکړل شوی و.

ولسمشرۍ ماڼۍ بيا وايي چې په دغه مجلس کې سياسي او جهادي مشرانو د سولې په تړاو د يوه واحد دريځ په هدف له ولسمشر سره خپلې مشورې شريکې کړې دي. د هارون چخانسوري په خبره: ((ولسمشر نن په ارگ کې له پخواني ولسمشر حامد کرزي، استاد عبدالرب رسول سياف، استاد دانش، استاد خليلي او ډاکټر صيب عبدالله سره وکتل. په دې غونډه کې پر دې خبرې شوې چې بايد د سولې په برخه کې پاشلې هڅې سره واحدې شي او دغه ډول غونډې دوام وکړي)).

خو سرچينې وايي چې د رهبري شورا په اړه د ډاکټر عبدالله عبدالله وړانديز تر دې دمه نهايي شوی نه دی او په راتلونکو غونډو کې به خبرې ورباندې کېږي. بل پلو ټاکل شوې چې په اپريل مياشت کې د قطر غونډه هم جوړه شي. زلمي خليلزاد چې ټاکل شوې کابل کې له افغان مشرانو سره خبرې وکړي، د قطر په راتلونکې غونډه کې پر بين الافغاني مذاکراتو له طالبانو سره بحثونه لري.

## دوستم: که حکومت اجازه راکړي، په شپږو مياشتو کې د شمال امنيت تامينوم



د ولسمشر لومړي مرستيال او د جنبش گوند مشر جنرال عبدالرشيد دوستم ويلي، که حکومت اجازه ورکړي په شپږو مياشتو کې به د شمال زون امنيت بېرته سم کړي.

نوموړي دغه څرگندونې تېره ورځ له ازبکستانه د حيرتان بندر له لارې بلخ ولايت ته تر رسېدو وروسته د خپلو پلويانو يوې غونډې ته کړې دي.

دوستم زياته کړې: «ولسمشر، اجرايه رييس او امنيت شورا دې اجازه راکړي، که مې په شپږو مياشتو کې له بادغيس څخه تر فارياب پورې ټولې سيمې له طالبانو څخه ونه نيولې، بيا مې مخ راتور کړی او له افغانستانه مې وباسی».

دوستم د شمال خلکو ته ډاډ ورکړی، چې د وضعيت په تړاو دې هېڅ ډول اندېښنه او تشويش نه کوي.

نوموړي نيوکه کړې چې د افغانستان د امنيتي وضعيت ښه کېدو لپاره ښې طرحې لري؛ خو په خبره يې چې حکومتي رهبران يې د عملي کېدو په برخه کې ورسره مرسته نه کوي.

دوستم دغه راز وايي چې حکومت د افغانانو استازی دی او بايد د سولې په خبرو کې مهم ځای ولري؛ نه دا چې له مذاکراتو بيرون پاتې کړای شي.

د نوموړي په خبره، د سولې مذاکراتو تر څنگ بايد دې ته هم چمتو و اوسو، چې که د سولې خبرې ناکامې شوې؛ نو څه به کېږي.

د هغه په خبره، په راتلونکو ټاکنو کې به هم د دوی نقش مهم او برخليک ټاکونکی وي او هغه څوک به يې گټي، چې د دوی او د دوی د خلکو ملاتړ ورسره وي.

هغه ويلي، د سولې روانې خبرې هغه وخت پايله ورکوي چې حکومت او طالبان سره کېني.

دوستم په وروستيو مياشتو کې د امنيتي ځواکونو په تلفاتو هم اندېښنه ښودلې او هيله يې څرگنده کړې، چې په روانو جنگونو کې دې د افغان ځواکونو د تلفاتو مخه ونيول شي.

## دفاع وزارت: د نوي کال له پيل سره هممهاله طالبانو خپل بريدونه زيات کړي دي



دفاع وزارت ويلي چې وسله والو طالبانو د نوي کال په پيل سره، خپل بريدونه زيات کړي دي.

بدخشان، کندوز، هلمند، کونړ، پکتيکا، بادغيس، فراه او فارياب هغه ولايتونه دي چې اوسمهال پکې سختې جگړې روانې دي.

د ملي دفاع وزارت وياند قيس منگل ازادي راډيو ته ويلي، چې امنيتي او دفاعي ځواکونه د وسله والو مخالفينو د حملو د په شا تنبولو تر څنگ، د وسله والو مخالفينو پر وړاندې تهاجمي بريدونه هم ترسره کوي.

منگل ويلي: «دوی (طالبانو) په يوشمېر ولايتونو کې خپلې حملې شديدې کړې، چې په مقابل کې امنيتي ځواکونو هم دفاع کړې او هم تهاجمي حملې ترسره کوي».

دا په داسې حال کې ده چې د بدخشان د ارغنج‌خواه ولسوالۍ سقوط او د غزني ښار د جمعې ورځې بريدونه هغه وروستۍ پېښې دي، چې د نوي کال په پيل سره د طالبانو بريدونو د ډېرېدو ښکارندويي کوي.

د بدخشان د ولايتي شورا غړي عبدالله ناجي ويلي، چې پر ارغنج‌خواه ولسوالۍ د طالبانو د بريد په ترځ کې، ۱۲ امنيتي ځواکونه وژل شوي، اووه ټپيان دي او پنځه نور ژوندي نيول شوي دي.

نوموړي زياته کړې: «ارغنج‌خواه ولسوالۍ سقوط شوې، ۱۲ کسان وژل شوي او څو نور کسان ټپي لرو، همدا راز پنځه کسان اسير نيول شوي».

په ورته وخت کې د غزني امنيه قوماندان جنرال داوود تره خېل ويلي، چې طالبانو د تېرې جمعې په شپه د غزني ښار درېيمې حوزې اړوند، پر څو امنيتي پوستو بريدونه کړي چې د درېيمې امنيتي حوزې د آمر په گډون، نهه پوليس پکې وژل شوي او شپږ نور ټپيان دي.

نوموړي زياته کړې چې اوس په سيمه کې وضعيت د امنيتي ځواکونو تر کنټرول لاندې دی او سيمې ته تازه دمې ځواکونه رسېدلي دي.

د طالبانو د بريدونو د زياتېدو په اړه دغه راپورونه داسې مهال دي، چې افغان حکومت هم روان کال د (خالد) په نوم پسرلني عمليات پيل کړي دي.

## امريکا: وينزويلا ته د روسي پوځيانو لېږل به د دغه هېواد کړکېچ لا زيات کړي




متحده ايالتونو په وينزويلا کې د روسي پوځيانو حضور غندلی دی.

د امريکا د ملي امنيت سلاکار جان بولټن ويلي چې د وينزويلا په څېر هېواد ته، چې له سياسي او اقتصادي بحران سره مخامخ دی، د روسي پوځيانو ورتگ بې ثباتي لازياتولای شي.

په همدې حال کې د وينزويلا لپاره د واشنگټن ځانگړي استازي ايليوت ابرامز ورمه ورځ د بهرنيو چارو په وزارت کې خبريالانو ته ويلي، چې د امريکا حکومت اټکل کوي چې ۱۰۰ روسي پوځي استازي وينزويلا ته تللي دي.

ايليوت ويلي چې روسي پوځيان د وينزويلا د هوايي دفاع پر راکټي سيستم، ايس ۳۰۰ کار کوي چې ښايي په وروستيو کې د برېښنا د نشتوالي له کبله به ورته ضرر رسېدلی وي.

هغه همدا راز په وينزويلا کې د کيوبا د وگړو په ځانگړي ډول د هغه هېواد په استخباراتي ادارو کې، د کيوبايانو حضور د اندېښنې وړ بللی دی.

د امريکا د ملي امنيت سلاکار جان بولټن په يوه بيان کې ويلي، چې په وينزويلا کې د پوځي حضور ټينگول يا د پوځي عملياتو د پراختيا لپاره د بهرنيو پوځيانو استول په کلکه غندي او دغه څه په دغه هېواد کې روان بحران لاپسې پېچلی کوي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستيو کې په وينزويلا کې د اقتدار پر سر کړکېچ، نړيوال قدرتونه په دوو برخو وېشلي چې د امريکا په گډون، ځينې غربي هېوادونه د دغه هېواد د اپوزېسيون له مشر خوان گوايدو؛ خو روسيه، چين او ځينې نور هېوادونه بيا د دغه هېواد له اوسني مشر نېکولاس مادورو څخه ملاتړ کوي.


په وينزويلا کې د قدرت پر سر وروستيو جنجالونو دغه هېواد له سياسي او اقتصادي بحران سره مخ کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اووم څپرکی
### خپل چاپېریال اداره کړئ
ځان بري ته جوړول




دي ځوان چې کار بدل کړ، دا یې هوښیاري وه که نه؟
تېروځئ مه! تاسې په خپلو ملګرو پېژندل کېږئ. مرغان هغه سره کېني چې بڼې یې یو شان وي. کارکوونکي یو ډول نه وي. ځینې مثبت وي او ځینې منفي وي. ځینې له مجبورۍ کار کوي او ځینې خپلو هیلو ته د رسېدو لپاره اخته وي. ځینو ته چې مشران هر څه ووایي په دوی بد لګي او نیوکه پرې کوي، خو ځینې نور بیا پر دې پوهېږي چې د ښه رهبر کېدو لپاره باید ښه پیرو شي.
زموږ چاپېریال او تر موږ راتاو خلک زموږ پر ذهنیت مستقیم اغېز کوي، نو د داسې ډلې غړي شئ چې فکرونه او ذهنونه یې سم وي.
په کاري چاپېریال کې شته خطرونو ته پام کوئ. په هره ډله کې داسې خلک شته چې پر خپلو ستونزو نه وي خبر، خو ستاسې مخې ته را دانګي او د پرمختګ مخه مو نیسي. زیاتره خلک لوی فکرونه لري، یوازې په دې خاطر پسخندېږي چې دوی ډېر کار او خپلو ارمانونو ته د رسېدو هڅې کوي، په دې برخه کې نه یوازې پسخند شوي، بلکې ګواښل شوي هم دي. راځئ چې له دې ستونزې سره مخ شو. زیاتره خلک به هسې درسره رخه لري، ستاسې پرمختګ به نه شي زغملای، په دې خاطر به مو له کاره زړه توروي.
زیاتره وخت چې یو کارکوونکی ډېر کار کوي، نور ورته غوسه کېږي. په عسکرۍ کې هم چې کوم سرتېری حربي پوهنتون ته ځي، نور پرې ملنډې وهي. په کاروبار او سوداګرۍ کې هم له داسې ډېرو خلکو سره مخ کېږو، چې خپله یوه مقام ته نه شي رسېدای، خو د نورو خلکو مخه ډب کوي.
په ښوونځیو او پوهنتونونو کې هم ځینې تنبل شاګران د هغو تکړه شاګردانو مخه نیسي چې درس وایي او له تحصیلي فرصتونو د ګټې اخیستو هڅه کوي. ځینې وخت ځینې تکړه شاګردان دومره ځورول کېږي او دومره خنداً ورپورې کېږي چې هغوی وایي دا تکړه توب ګني جرم او د انسان په زیان دی.
په خپلو ډلو کې داسې منفي بافه خلکو ته وخت مه ورکوئ.
ځینې وخت تاسې ته ویل شوې کنایې دومره شخصي نه وي، لکه په لومړي ځل اورېدو چې ښکاري. دا زیاتره وخت د ویناوال د ماتې او نهیلۍ د احساس غبرګون وي. منفي بافانو سره د هغوی تر کچې مه ټیټېږئ. پرېږدئ چې لګیا وي، لکه د بطکې په غوړو بڼکو چې اوبه نه ایسارېږي، داسې دې دوی هم روان وي. له داسې خلکو سره یو ځای شئ چې لوی او د پرمختګ فکرونه لري، دوی به مو لوړ کړي.
تاسې دا کار کولای شئ، یوازې سم فکر غواړي!
مهمه یادونه: په دې کې ځیرک ووسئ چې له چا مشوره واخلئ. په زیاتره ادارو کې داسې خپلواک مشاورین وي چې په لارو ګودرو بلد نه وي او تاسې ته ناسم معلومات درکوي. یوه ورځ همداسې یوه مشاور یوه ځوان ته د اداري ژوند په اړه معلومات ورکول او ما واورېدل، مشاور ویل:
(دلته د پرمختګ تر ټولو ښه لاره دا ده چې د چا مخې ته مه ورځه. دلته که درسره څوک بلد شول، یوازېنۍ مرسته به یې درسره دا وي چې کارونه به دربانديې زیات کړي. ډېر کوشش کوه چې د فلانۍ څانګې د مدیر مخې ته ور نه شې، که هغه دربانديې پوه شو چې اوزګارې یې، نو دومره کار به در وسپاري چې له پښو به دې وغورځوي...) دې مشاور تقریباً له دېرش کالو راهیسې په دې شرکت کې کار کاوه او موقف یې اوس هم ډېر ټیټ و. داسې مشاور به یوه ځوان ته د پرمختګ لپاره ښه سلا مشوره ورکړي (؟!)
دا اصول وګرځوئ چې مشورې به له پوه او ماهرو خلکو اخلئ
. زیاتره خلک وایي: بریالیو خلکو ته ګني لاسرسی نه کېږي، خو همدا بریالي خلک تر نورو ښه او زر مرسته کوي. دا خلک له کار و پرمختګ سره مینه کوي، په دې خاطر دوی تر اوږده عمره کار هم کوي او بیا چې ګوښه شي، پر ځای یې تکړه کس راځي. دوی (لوی خلک) وي او زیاتره وخت په اسانه نه پېژندل کېږي.
یوه اجرائیوي رئیسه وایي چې:
(زه بوخته ښځه یم، خو د دفتر دروازې مې هېڅا ته بندې نه دي. زما د بري یو راز نورو ته مشورې ورکول دي. په دې شرکت کې چې څوک کار کوي، موږ ټولو ته یو یا څو ډوله ستندرډ روزنه ورکړې ده، خو شخصي مشوره (شخصي روزنه) ټولو ته ورکړل شوې ده.
څوک چې دلته د شرکت یا شخصي ستونزه راوړي، زه یې شخصاً مرستې ته چمتو یمه، خو له هغوی سره مرستې ته ډېره لېواله یم، چې په خپل کار او د کار اړوند نورو چارو پوهېدو ته لېواله او نوي شیان زده کوي.
او برعکس زه له هغو خلکو سره مرستې ته بیخي لېواله نه یم، چې زده کړې یا لارښوونې ته لېواله نه وي او د دې کار لپاره روښانه دلایل هم لرم.)
پوښتنې له غوره خلکو وکړئ، له ناکامو مشوره اخیستل داسې وي لکه څوک چې له ټګه د سرطان درملنه غواړي.
نن سبا چې زیاتره مدیران د کارکوونکي د ژوند له ملګري/ملګرې سره خبرې و نه کړي، پر حساسې دندې یې نه ګوماري. د خرڅلاو یو مدیر د دې کار دلیل دا ښیې: (موږ غواړو پر دې ډاډه شو چې د کارکوونکي کورنۍ یې ملاتړ کوي او داسې مهربانه کورنۍ وي، چې د خرڅلاو نامنظم، سخت، اوږد او سفر لرونکي کار سره مخالفت نه لري، داسې کورنۍ چې په سختو حالاتو له کې پلورونکي سره مرسته وکړي.)

**دوام لري...**

# باختر پوهنتون

حمیدالله حمیدي




باختر پوهنتون په لومړي سر کې د یوه علمي مرکز په توګه خپلې چارې په ۱۳۸۴ لمریز کال کې پیل کړې. په ۱۳۸٦ لمریز کال کې یې د لوړو زده کړو د موسسې په توګه، د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ پر فعالیت پیل وکړ. دې موسسې د معیارونو تر پوره کولو وروسته، په ۱۳۹۰ لمریز کال کې د لوړو زده کړو وزارت په منظورۍ، د لوړو زده کړو له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقا وکړه. د دغه پوهنتون د اړیکو او معلوماتو مسوول ښاغلی بلال ځاځی وایي، باختر پوهنتون له هماغه لومړي سره په کور دننه او بهر کې له ډېرو نورو پوهنتونونو سره پراخې علمي اړیکې لري، چې له بهرنیو پوهنتونونو څخه یې د اکسفورډ، یو کې او په هند کې د اندراګاندي له پوهنتون څخه یادونه کولی شو.
باختر پوهنتون اوسمهال په لېسانس او ماسترۍ دواړو برخو کې محصلین لري، چې تر څنګ یې له لېسانس پرته په ځینو نورو برخو کې هم په میاشتني ډول محصلین زده کړې کوي. دغه پوهنتون د کمپیوټر ساینس او اقتصاد په برخه کې د ماسترۍ پروګرام لري او عملاً پکې محصلین پر زده کړو بوخت دي. په ټوله کې باختر پوهنتون اوسمهال په بېلابېلو برخو کې پنځه پوهنځي (کمپیوټر ساینس، اقتصاد، حقوق، سیاسي علوم او ژورنالېزم) لري. له دې ټولو سره سره، په دغه پوهنتون کې د ټافل، ایلېټس او د کمپیوټر په برخه کې ډېر نور لنډمهالي کورسونه هم لري.
باختر خصوصي پوهنتون تر اوسه پورې له خپلو بېلابېلو پوهنځیو څخه پنځه زره محصلین فارغ کړي، چې ډېری یې اوس په دولتي او خصوصي ادارو کې پر دندو ګمارل شوي دي. د دغه پوهنتون د اړیکو او معلومات مسوول بلال ځاځی دغه راز وایي، چې په دغه پوهنتون کې اوس لږ تر لږه ۲۳۱۴ محصلین په ماسترۍ پروګرام، لېسانس او نورو لنډمهالو کورسونو کې پر زده کړو بوخت دي، چې له دې ډلې یې ۲۱۱ نجونې او پاتې نور یې نارینه محصلین دي.
ځاځی وایي، په کور دننه او بهر کې له ډېرو پوهنتونونو سره علمي اړیکې لري. د نوموړي په خبره، په هېواد کې له ډېرو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، له تجربو یې ګټې اخلي او تر څنګ یې خپلې تجربې هم ور سره شریکوي. دغه راز له هېواده بهر هم په امریکا او هند کې له ځینو پوهنتونونو سره په اړیکه کې دي. دا چې دغه پوهنتونونه په نړیواله کچه پېژندل شوي دي، نو دوی هڅه کوي چې له تجربو او د ساینس او ټکنالوژۍ په برخه کې د هغوی له کریکولم څخه ګټه واخلي، څو د کار مارکېټ ته په کتو محصلین ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي.
باختر پوهنتون لږترلږه سل استادان لري، چې په دې کې دوکتور، ماسټر او لېسانس درې واړه شامل دي. ښاغلی ځاځی وایي، د استادانو په ډله کې یې بهرني استادان چې د هندوستان هېواد تبعه دي، هم پر دنده ګمارلي، چې د دغه پوهنتون په بېلابېلو پوهنځیو کې د تدریس چارې مخ ته وړي. ښاغلی ځاځی وایي، ۴۰ سلنه استادان یې ښځینه او ٦۰ سلنه یې نارینه دي.
د ځاځي په خبره، د باختر پوهنتون د محصلینو شمېر زیات دی او دوی هم هڅه کړې ده، چې د محصلینو له خوښې سره سم درسي ټایم ورته برابر کړي، ځکه د دوی ډېری محصلین هغه کسان دي، چې اوسمهال عملاً په دولتي یا نادولتي ادارو کې پر کار بوخت دي او یا هم خپل شخصي کار و بار لري. نوموړی وایي، دوی د ورځې په دریو ټایمونو کې (سهار وختي، له غرمې وروسته او مازدیګر) محصلین د زده کړو لپاره ورغواړي. پر دولتي پوهنتونونو سربېره، په ډېری خصوصي پوهنتونو کې د ماسترۍ پروګرام د شپې له خوا وي، خو د باختر پوهنتون مسوولین وایي، دا چې دوی د خپلو محصلینو غوښتنې په پام کې نیسي او اړتیا یې درک کوي، نو سهار وختي یې هم ورته د ماسترۍ پروګرام برابر کړی، څو هغه کسان چې نه شي کولی د ورځې په اوږدو کې او یا هم د شپې له خوا زده کړو ته حاضر شي، سهار وختي ورشي.
باختر پوهنتون په ټوله کې یو عمومي کتابتون لري، چې ډېر کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي. محصلین او استادان کولی شي چې له دغه عمومي کتابتون څخه د خپلې مطالعې او څېړنې لپاره ګټه واخلي. له دې سره په څنګ کې بیا هر پوهنځی خپل ځانګړی کتابتون لري، چې د هماغه پوهنځي اړوند تخصصي کتابونه یې پکې راټول کړي دي. په دغو کتابتونو کې د هارډ کتابونو تر څنګ، په سافټ بڼه هم نوي او اپډېټ هغه کتابونه په ځانګړي سیسټم کې ځای پر ځای شوي، چې محصلین په ورځنۍ ډول ورته اړتیا پیدا کوي.
پر کتابتونو سربېره، باختر پوهنتون د خپلو محصلینو د هر اړخیزو وړتیاوو د لوړولو لپاره، ډېر نور پروګرامونه هم برابر کړي دي. په دغه پوهنتون کې د محصلینو لپاره د وړیا انټرنټ زمینه برابره شوې ده، چې محصلین کولی شي له انټرنټ څخه په ګټنې، په اړوند برخه کې خپلې ستونزې حل کړي او په درسي برخه کې چې کومو اضافي معلوماتو ته اړتیا لري، سرچ یې کړي او خپل معلومات زیات کړي. دغه راز باختر پوهنتون په ورزشي برخه کې د خپلو محصلینو لپاره یو جمنازیوم جوړ کړی، چې محصلین کولی شي په خپل اضافي وخت کې ترې ګټه واخلي. د باختر پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، په نږدې راتلونکې کې به دغه پوهنتون د ورزش په برخه کې یوه ځانګړې څانګه پرانیزي، چې له مخې به یې د کرېکټ، والیبال او فوټبال ټیمونه ولري او هغه محصلین به پکې نوملیکنه او ګډون وکړي، چې وړتیا یې لري او یا هم د دغو برخو مینوال وي.
باختر پوهنتون هر کال د محصل اقتصادي وضعیت ته په کتو، ځانګړي تخفیفونه اعلانوي. ښاغلی ځاځی وایي، د ژورنالېزم پوهنځي ټولو محصلینو لپاره یې ٦۰ سلنه تخفیف په پام کې نیولی او په پاتې نورو پوهنځیو کې بیا د ښځینه وو لپاره ۴۰ سلنه او د نارینه وو لپاره بیا ۳۰ سلنه تخفیف لري. د خصوصي پوهنتونونو له ډېری محصلینو سره اندېښنه له لوړو زده کړو وزارت څخه د خپلو تحصیلي اسنادو د تر لاسه کولو وي، خو د باختر پوهنتون مسوولین وایي، په دې برخه کې یې اوس یو څه ستونزې راکمې شوې او فارغ شوي محصلین کولی شي، هغه که د ماسترۍ د برخې وي او یا هم د لېسانس د برخې، په دریو میاشتو کې له لوړو زده کړو وزارت څخه خپل تحصیلي اسناد واخلي او په اړوندو برخو کې چې د دوی حق ګڼل کېږي، ترې ګټه واخلي.
ډېری کسان بیا د دولتي پوهنتونو په پرتله خصوصي پوهنتونو ته دومره ارزښت نه ورکوي، ځکه په دې برخه کې ځینې پوهنتونونه شته، چې د تدریس او امکاناتو کچه یې خورا ټیټه ده او د ډېرو ښو او مجهزو خصوصي پوهنتونو رنګ یې هم ور پیکه کړی دی، خو د باختر پوهنتون د اړیکو مسوول وایي، په نړیواله کچه که وکتل شي، د نړۍ ډېر معتبر پوهنتونونه خصوصي پوهنتونونه دي، چې په نړیواله درجه بندۍ یا رېنکېنګ کې یې هم لوړ ځایونه خپل کړي دي.
د باختر پوهنتون مسوولین وایي، په ټوله کې هڅه کوي، چې پوهنتون یې په معیارونو برابر او له داسې تدریسي مېتود او درسي توکو څخه ګټه واخلي، چې وکولی شي په کار پوه او تخصصي کسان د کار مارکېټ ته وړاندې کړي. له دې سره په څنګ کې دغه پوهنتون د ورزش برخې ته هم خورا پاملرنه کړې ده. د دغه پوهنتون مسوولین وایي، په نږدې راتلونکې کې به د کرېکټ، والیبال او فوټبال په برخه کې ورزشي ټیمونه جوړ کړي، چې نه یوازې په کور دننه به په سیالیو کې برخه اخلي، بلکې له هېواده بهر به هم په نړیوالو سیالیو کې ګډون کوي. دغه پوهنتون تر اوسه یوازې په کابل ښار کې څانګه لري، خو د خلکو اړتیاوو ته په کتو سره غواړي په راتلونکې کې د هېواد په نورو ولایتونو کې هم څانګې ولري.
د باختر پوهنتون مسوولین تر اوسه له کومې ستونزې سر نه ټکوي، خو له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې له دوی سره په هر اړخیزه توګه همکاري وکړي. ښاغلی ځاځی وایي، دوی تر ډېره د فارغ شویو محصلینو د تحصیلي اسنادونو هغه برخه چې په دوی پورې اړوندېږي، په اړه یې پر وخت اقدام کوي، خو له لوړو زده کړو وزارت څخه هم غواړي، چې په دې برخه کې له محصلینو سره مرسته وکړي، څو تحصیلي اسناد پر خپل وخت تر لاسه کړي او وکړای شي چې له اسنادو څخه د دندې په پیدا کولو او نورو اړوندو برخو کې ګټه واخلي. دغه راز د دغه پوهنتون اداره له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي، چې په راتلونکې کې ورته د هېواد په نورو ولایتونو کې هم د فعالیت اجازه ورکړي او تر څنګ یې په طبي برخه کې هم ځینې پوهنځي ورته منظور کړي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۶ |
| € | ۸۵,۴۰ |
| Rp. | ۵۳۳ |
| ₹ | ۱۰۸۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸,۴۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

روغتیا

# علت درد سینه؛ علائم و راه‌های درمان آن

**ترجمه: فایز کریمی**

درد سینه مشکل رایجی در میان زنان است. این درد به‌صورت حساسیت سینه، احساس درد و سوزشی تیز یا سفت شدن بافت سینه بروز می کند و می‌تواند همیشگی باشد یا فقط گاهی‌اوقات ایجاد شود. خوشبختانه در بیشتر موارد، درد سینه مشکل جدی و نگران‌کننده‌ای نیست و به راحتی درمان می‌شود. در ادامه، با علائم و علت درد سینه آشنا می‌شویم و راه‌های تشخیص و درمان و همچنین درمان‌های خانگی آن را شرح می‌دهیم.

**علائم درد سینه**

بیشتر موارد درد سینه در دو دسته چرخه‌ای (cyclic) و غیرچرخه‌ای (noncyclic) دسته‌بندی می‌شوند. هریک از این انواع درد سینه ویژگی‌های خاص و متمایز خود را دارد.

**درد سینه خارج از پستان (Extramammary)**

اصطلاح Extramammary به‌معنی «خارج از پستان» است. در ظاهر به نظر می‌رسد که این درد در بافت پستان شروع شده است، ولی در واقع منبع آن جای دیگری است. برای نمونه، کشیدگی عضله‌ای در سینه می‌تواند موجب بروز دردی در دیواره سینه (chest wall) یا قفسه سینه شود که گسترش یافته و در پستان نیز احساس می‌شود.

**چه زمانی باید به داکتر مراجعه کنیم؟**

در هریک از موارد زیر باید به داکتر مراجعه کنید:

درد سینه به‌صورت روزانه و بیش از چند هفته ادامه پیدا کند.

درد در قسمت خاصی از سینه ایجاد شود.

درد سینه با گذشت زمان بدتر شود.

درد سینه در فعالیت‌های روزانه اختلال ایجاد کند.

گرچه در زنانی که نشانه اصلی مشاهده‌شده، در آنها درد سینه است، خطر ابتلا به سرطان پستان کم است، ولی اگر داکتر انجام آزمایش و ارزیابی را توصیه می‌کند، حتماً باید به توصیه او عمل کنید.

**علت درد سینه**

گاهی شناسایی علت دقیق درد سینه امکان‌پذیر نیست. معمولاً درد سینه در اثر یک یا چند مورد از علت‌های زیر ایجاد می‌شود:

هورمون‌های تولیدمثلی: ظاهراً درد سینه چرخه‌ای ارتباط زیادی با هورمون‌ها و چرخه قاعدگی دارد. معمولاً درد سینه چرخه‌ای با بارداری یا یائسگی کاهش می‌یابد یا از بین می‌رود.

**ساختار پستان:** معمولاً درد سینه غیرچرخه‌ای ناشی از تغییراتی است که در مجاری شیر یا غدد شیری ایجاد می‌شود. این تغییرات می‌تواند منجر به ایجاد کیست پستان شود. آسیب یا ترومای پستان (Breast trauma)، جراحی پستان در گذشته یا سایر عوامل مرتبط با پستان نیز می‌تواند موجب درد سینه شود. گاهی درد سینه در خارج از پستان شروع می‌شود (برای نمونه در دیواره سینه، عضلات، مفاصل یا قلب) و به پستان گسترش می‌یابد.

تعادل نداشتن اسیدهای چرب: تعادل نداشتن اسیدهای چرب در درون سلول‌ها می‌تواند بر حساسیت بافت سینه به هورمون‌های موجود در گردش خون اثر بگذارد.

اندازه سینه: ممکن است زنانی که سینه‌های بزرگی دارند، دچار درد سینه غیرچرخه‌ای مرتبط با اندازه سینه‌های خود شوند. درد سینه‌ای که به دلیل بزرگ بودن سینه‌ها ایجاد می‌شود، با درد گردن، شانه و پشت همراه است.

جراحی پستان: گاهی درد سینه ناشی از جراحی پستان و تشکیل اسکار، پس از التیام و بهبود برش‌های جراحی نیز برای مدتی ادامه پیدا می کند.

**تشخیص علت درد سینه**

از آزمایش‌ها و ارزیابی‌های زیر برای بررسی شرایط بیمار و تشخیص علت درد سینه استفاده می‌شود:

معاینه بالینی پستان: داکتر، وجود تغییرات در پستان‌ها را بررسی و پستان‌ها و گره‌های لنفاوی پایین گردن و زیربغل را معاینه می کند. ممکن است که داکتر به صدای قلب و ریه هایتان نیز گوش بدهد و سینه و شکم را نیز بررسی کند تا مشخص شود که آیا درد سینه با مشکل دیگری مرتبط است یا خیر. اگر سابقه صحی و معاینه فزیکی، چیزی غیرعادی را نشان ندهد، ممکن است که به انجام آزمایش‌ها و بررسی‌های دیگری نیاز نداشته باشید.

ماموگرافی: اگر داکتر توده یا بافت ضخیم غیرعادی را در پستان حس کند یا متوجه شود که درد در قسمتی از بافت سینه متمرکز است، برای ارزیابی قسمت نگران‌کننده‌ای که در معاینه پستان شناسایی شده است به پرتونگاری اشعه ایکس از سینه نیاز خواهید داشت.

سونوگرافی: در سونوگرافی از امواج صوتی برای تولید تصویری از سینه‌ها استفاده می‌شود. معمولاً سونوگرافی همراه با ماموگرافی انجام می‌شود. در صورت عادی بودن نتیجه ماموگرافی نیز ممکن است که برای ارزیابی منطقه تمرکز درد، به انجام سونوگرافی نیاز داشته باشید.

بیوپسی یا نمونه‌برداری پستان: برای اینکه داکتر بتواند علت اصلی درد سینه را تشخیص دهد، باید از توده‌های مشکوک پستان، قسمت‌های ضخیم بافت پستان یا قسمت‌های غیرعادی مشاهده‌شده در آزمایش‌های تصویربرداری نمونه‌برداری شود. در بیوپسی، داکتر نمونه کوچکی از قسمت مورد نظر بافت سینه را برمی‌دارد و آن را برای انجام بررسی‌های آزمایشگاهی ارسال می کند.

**درمان درد سینه**

در بسیاری از زنان درد سینه با گذشت زمان و خودبه‌خود برطرف می‌شود و به درمان نیازی نیست. ولی اگر به درمان نیاز داشته باشید، ممکن است که داکتر موارد زیر را به شما توصیه کند:

برطرف کردن علت زمینه‌ای یا عامل تشدیدکننده: برای این منظور می‌توان تغییر ساده‌ای ایجاد کرد، مثلاً از سینه بندی با پوشش و پشتیبانی بیشتر استفاده کرد.

استفاده از داروهای ضدالتهابی غیراستروئیدی (NSAID) موضعی: داکتر در صورت شدید بودن درد می‌تواند داروهای NSAID را تجویز کند. ممکن است داکتر به شما توصیه کند که کرم NSAID را مستقیماً روی محل درد بمالید.

کاهش دوز هورمون‌درمانی یائسگی: می‌توانید دوز هورمون درمانی یائسگی را کاهش دهید یا به‌طور کامل آن را متوقف کنید.

**سبک زندگی و درمان‌های خانگی درد سینه**

با وجود اینکه تحقیقاتی اندکی انجام شده است که اثربخشی درمان‌های خود مراقبتی را نشان دهد، بعضی از این روش‌ها ارزش امتحان کردن دارند.

استفاده از آرامش‌درمانی که در کنترل اضطراب و پریشانی مرتبط با درد سینه مؤثر است.

کاهش مصرف یا حذف کافین. ایجاد این تغییر در رژیم غذایی برای بعضی از زنان مفید بوده است. البته مطالعات صحی انجام‌شده درمورد اثر کافین روی درد سینه و سایر علائم پیش از قاعدگی، کافی و قطعی نیست.

پیروی از رژیم غذایی با چربی کم و مصرف کاربوهایدریت های پیچیده‌تر. در مطالعات مشاهده‌ای استفاده از این روش برای بعضی از زنان دچار درد سینه مفید بوده است.

موارد بروز درد سینه را یادداشت کنید و توجه کنید که چه زمان‌هایی دچار درد سینه و سایر علائم می‌شوید تا مشخص شود که درد شما چرخه‌ای است یا غیرچرخه‌ای.

**درمان های جایگزین (Alternative medicine)**

در بعضی از زنان، مصرف ویتامین‌ها و مکمل‌های غذایی می‌تواند علائم درد سینه و شدت آن را کاهش دهد. از داکتر خود بپرسید که آیا مصرف ویتامین‌ها و مکمل‌ها برای شما مفید است. در مورد دوز مصرف و عوارض جانبی احتمالی نیز با پزشک خود صحبت کنید.

روغن گل مغربی: این مکمل تعادل اسیدهای چرب در سلول‌ها را تغییر می‌دهد و می‌تواند موجب کاهش درد سینه شود.

ویتامین E : مطالعات اولیه نشان داد که ویتامین E روی درد سینه پیش از قاعدگی زنان (دچار دردی می‌شوند که در طول چرخه قاعدگی نوسان داشته و متغیر است) اثر مثبتی دارد. در مطالعه‌ای مصرف ۲۰۰ واحد (IU) ویتامین Eدو بار در روز و به‌مدت دوماه موجب بهبود علائم در زنانی شد که درد سینه چرخه‌ای داشتند. ولی پس از چهارماه مصرف ویتامین E تاثیر مثبت بیشتری ایجاد نشد.

اگر برای درد سینه مکملی را امتحان کردید و پس از چند ماه، بهبودی در درد سینه خود حس نکردید، مصرف آن را متوقف کنید. هر بار فقط یک مکمل را امتحان کنید تا به‌طور دقیق متوجه شوید که کدام مکمل در کاهش درد سینه شما مؤثر بوده است و کدام‌یک تاثیری روی آن نداشته است.

**آمادگی پیش از مراجعه به داکتر**

اگر به تازگی دچار درد سینه شده‌اید، درد فقط در قسمت خاصی از سینه شما ایجاد می‌شود یا درد سینه روی کیفیت زندگی شما اثر گذاشته است، برای بررسی علت آن به داکتر مراجعه کنید.

در بعضی موارد، زمانی که برای گرفتن وقت ویزیت تماس می‌گیرید، بلافاصله به پزشک متخصص پستان ارجاع داده می‌شوید.

**کارهایی که می‌توانید پیش از مراجعه به داکتر انجام بدهید**

در ارزیابی اولیه درد سینه، داکتر روی سابقه صحی شما تمرکز می‌شود. او در مورد محل درد، ارتباط آن با چرخه قاعدگی و سایر جنبه‌های سابقه صحی تان که ممکن است علت درد را نشان دهد، سوالاتی می‌پرسد.

داکتر چه کارهایی انجام خواهد داد؟

داکتر سوالاتی مانند موارد زیر را از شما خواهد پرسید:

در کدام قسمت سینه خود احساس درد می‌کنید؟

چه مدت درد سینه داشته‌اید؟

شدت درد سینه شما از یک تا ۱۰ چقدر است؟

درد را در هر دو سینه یا در یکی از آنها احساس می‌کنید؟

آیا درد سینه شما الگوی خاصی دارد؟

آیا تا به حال ماموگرافی انجام داده‌اید؟

آخرین ماموگرافی را چه زمانی انجام داده‌اید؟

# اترا: هغه شرکتونه به جریمه شي چې د انټرنېټي خدمتونو کیفیت یې ټیټ وي

د مخابراتي خدمتونو د تنظیم اداره یا اترا وايي، ټول هغه مخابراتي شرکتونه چې د انټرنېټ او خدمتونو کیفیت یې ټیټ وي، جریمه به شي.

دغې ادارې ویلي چې له مخابراتي شرکتونو سره په ناستو کې یادو شرکتونو ژمنې کړې، چې په روان لمریز کال کې به د انټرنېټ د کیفیت د ښه والي لپاره لا زیاته پانګونه کوي.

د دې ادارې رییس محمد نجیب عزیزي تېره ورځ په کابل کې خبریالانو ته ویلي، هغه شرکتونه به مجازات شي چې جرایم ولري.

نوموړي زیاته کړې: «مخابراتي شرکتونو ژمنې کړې چې په ۱۳۹۸ کال کې به په خپلو شبکو او فریکانس لویه پانګونه کوي، ترڅو کیفیت ښه شي. اترا همدا شان د جواز د شرایطو مطابق د انټرنېټي خدمتونو له کیفیته جدي څارنه کوي، څو میاشتې وروسته چې تخنیکي ټېسټونه بشپړ شي، هغه جرایم چې د انټرنېټي خدمتونو د ټیټ کیفیت له امله وي، انشاألله له تاسې سره به یې شریک کړم».

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې په افغانستان کې د مخابراتي شرکتونو د انټرنېټ د ټیټ کیفیت او لوړ لګښت پر ضد، په ټولنیزو رسنیو کې پراخ کمپاین پیل شوی دی.

خلکو په دې برخه کې اترا اداره پړه بللې او له مانا دارو او سمبولیکو تصویرونو سره جوخت یې دا لیکلي، چې اترا چېرته ده؟

په دې اړه رسنیو هم راپورونه خپاره کړل، چې وروسته اترا اړ شوه څو په دې اړه له شرکتونو سره کېني او د خلکو اندېښنې ورسره شریکې کړي.

اترا وایي، په نویو پرمختګونو کې مخابراتي شرکتونو ژمنه کړې، چې هره میاشت به له شبکو سره د مشتریانو اړیکې چې پخوا هره دقیقه دوه نیمې افغانۍ وه، اوس به وړیا وي.

که څه هم خلک د اترا له دې اقدامه هرکلی کوي، خو وايي چې مخابراتي شبکې زیاتې ستونزې لري.

دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې دا مهال روشن، اتصالات، افغان بیسم، ایم تي این او افغان ټلیکام مخابراتي شرکتونه فعالیتونه لري.

اترا پر خلکو غږ کړی چې هر هغه څوک چې د مخابراتي شرکتونو د جرایمو په اړه اسناد لري، د دوشنبې په ورځ دې له دې ادارې سره شریک کړي، څو د جواز د شرایطو مطابق اړوند شرکتونه مجازات شي.

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**لیکوالان:** محمد نظیم سمون، جاوید کوټوال او شفیق همدرد

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري

**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶ ۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

**Maseer**
New Vision, New Journey
Daily

المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
0786 55 55 91
0786 55 55 92
0786 55 55 93
0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

یکشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۱۱مه | د ۲۰۱۹ د مارچ ۳۱مه | دویم کال | ۳۵٤مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار |
|---|---|---|---|---|
| ۱۷ | ۲٤ | ۲۸ | ۲٤ | ۳۰ |
| ٦ | ۱۱ | ۱۲ | ۱۱ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۱۹ | لمر ختل ۰۵:٤٤ | ماسپښین ۱۱:۵۹ | مازیګر ۰۳:۳۱ | ماښام ۰٦:۱۳ | ماخوستن ۰۷:۳۹

## تاجران: حملات مسلحانه بر تانکرهای شخصی تیل در بغلان افزایش یافته اند



تاجران مواد نفتی در بغلان می‌گویند که در این اواخر حملات مسلحانه بر تانکرهای شخصی تیل افزایش یافته اند که در نتیجه میلیون‌ها افغانی خساره به تاجران وارد شده است.

حاجی اسدالله معاون اتحادیه مالکین تانکرهای تیل در بغلان، به آژانس خبری پژواک گفته است که از یک ماه بدین‌سو، حملات بر تانکرها افزایش یافته است. نامبرده افزوده است: «در صورتیکه جلو این حملات گرفته نشود، ضمن وارد شدن خسارات مالی به تاجران، قیمت تیل در ولایت‌های مرکزی نیز افزایش خواهد یافت». به اساس معلومات نامبرده، طی یک ماه گذشته در مربوطات ولایت بغلان، ۱۲ تانکر تیل به آتش کشانده شده اند که هر کدام، حدود یکصد هزار دالر ارزش دارد. نامبرده گفته است که به نمایندگی اتحادیه تانکر داران با مسئولین نیروهای امنیتی دیدار نموده و آنها از تأمین امنیت در این مسیر اطمینان سپرده اند. از جانب دیگر، رانندگان وسایط تانکری در امتداد شاهراهٔ کابل – شمال نیز مدعی اند که بیشتر در مناطق دندغوری و دشت کیله گی ولایت بغلان، با حملات مواجه می‌شوند.

زیرگل یکتن از این رانندگان، به پژواک گفته است که در گذشته بسا اوقات، شبانه از این مسیر سفر می کرد، ولی اکنون بدون همراهی نیروهای امنیتی، در روز روشن از منطقه دندغوری عبور کرده نمی تواند.

از جانب دیگر، باشندگان منطقه نیز از ناگوار بودن اوضاع امنیتی نگران بوده و می گویند که طی یک ماه گذشته، حدود ده تانکر صرف در دندغوری حریق شده اند. دگروال غلام عباس توکلی قوماندان لوای هشتم نظم عامه قول اردوی شاهین در بغلان، نگرانی‌های مردم را به جا دانسته است و گفته است که امنیت شاهراهٔ بغلان خراب شده است.

اما موصوف افزوده است که به منظور تأمین امنیت شاهراه در این ولایت، عملیات راه اندازی نموده اند که توام با آن پوسته‌ها را نیز افراز خواهد کرد.

## نړۍ




**امریکا: وینزویلا ته د روسي پوځیانو لیږل به د دغه هېواد کړکېچ لا زیات کړي**

۳

انسان به تنهایی آسیب پذیر است، اما با یکپارچگی قوت بیشتری دارد. ما این توانایی را داریم که به حیث برادران در جامعه با خوشبختی زندگی کنیم. اتحاد یکی از اصول اساسی دین مبارک اسلام است. با پیروی از این اصل، ما همه در یک فضای برادری در کنار هم می باشیم.

## یوځای د سولې پر لور!

انسان به تنهایی آسیب پذیر است، اما با یکپارچگی قوت بیشتری دارد. ما این توانایی را داریم که به حیث برادران در جامعه با خوشبختی زندگی کنیم. اتحاد یکی از اصول اساسی دین مبارک اسلام است. با پیروی از این اصل، ما همه در یک فضای برادری در کنار هم می باشیم.

## همه باهم به سوی صلح!

یو سپین ږیری خپلو اولادونو ته د یووالي په اړه کیسه کوي
یک پیرمرد در مورد اتحاد به فرزندانش قصه می کند



یو لرګی په اسانۍ ماتېږي
یک چوب به آسانی می شکند



یو بنډل لرګي په اسانۍ نه ماتېږي. دا د یووالي زور دی
چند چوب یکجا به آسانی شکستانده نمی شود. این قدرت اتحاد است

